کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له جنابت څخه غسل کاوه نو، لاسونه يې ومينځل او لکه د لمانځه په څېر اودس يې وکړ، بيا يې غسل وکړ

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى وايي چې: کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له کاوه نو، لاسونه يې ومينځل او لکه د لمانځه په څېر اودس يې وکړ، بيا يې غسل وکړ، بيا يې‌جنابت څخه غسل ويښتانو کې ګوتې ننباسلې تر دې چې ړاړه شو چې لاندې پوستکى يې لوند شو بيا يې درې ځلې (مخ ته) اوبه واچولې، بيايې ټول ځان ووينځه او فرمايلي يې دي، ما او د الله رسول صلى الله عليه وسلم به له يو لوښي څخه لامبل، دواړو به تري لپې را اخېستلې.

[صحيح دى] [بخاري روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله غوښتل له جنابت څخه غسل وکړي نو د لاسونو پر وينځلو به يې پيل وکړ. بيا به يې داسې اودس وکړ لکه څنګه چې د لمانځه لپاره کېږي، بيا به يې ويښتان په لاسونو سره خلال کړل، تر دې چې ړاړمن به شو چې د ويښتانو بېخونه لانده شول او مخ ووينځل شو، بيا به يې په سر درې ځلې اوبه واړولې او د بدن پاتې برخه به يې ومينځله. او عايشې رضي الله عنها فرمايلي چې: ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به له يو لوښي څخه لامبل، دواړو به تري لپې راړکولې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3316